**د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت**

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۹ / جمادی الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۲۲ / جدی /۱۴۰۲هـ، ش**

# په اسلامي شریعت کې د قومي ، سمتي او ژبني عصبیت مذمت او ترې ځان ساتنه

الحمد لله رب العالمين، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، اللهم صل وسلم وزد وبارك عليه، وعلى آله وأصحابه وأحبابه وأتباعه، وعلى كل من اهتدى بهديه، واستن بسنته، واقتفى أثره إلى يوم الدين، أمابعد:

قال الله سـبحانه وتعالى:(يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُـعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ)الحجرات: (۱۳)

**د عصبیت او تعصب مفهوم:**

د عصـبیت څخه مراد دادی چې داسـلامي اخوت او ورورګلوی پرځای قومیت، یا ژبه او یا سـمت د محبت، همکاری، همدردی، خواخوږی، حمایت، مر ستې او کومک معیار وګرځول شي او یو څوک مر سته، کومک ، او خواخوږي یواځې د قومیت په اساس کوي.

همدا راز په ظلم ، ناروا، ګناه او ناوړه کړنو کې د خپل قوم، قبیلې ، وطنوال سره همکاري کول کومک او مرســته کول ع صبیت بلل کیږي. لکه چې په حدیث کې راځي: (عن فُسَيْلَة رضي الله عنها قالت : سمعت أبي يقول : قُلتُ يا ر سول الله أَمِنَ العَصَبِيَةِ أَن يُعِينَ الرَّجُلُ قَومَه عَلى ظُلمٍ ؟ قال : ( نَعم ). الأدب المفرد (ص: ۹۰)

ترجمه:- د حضـرت فسـیله رضي الله عنها څخه روایت دی هغه وایې چې ما د خپل پلار څخه اوریدلي دي چې وه یي ویل:ما وویل ای د الله رسـوله!آیا داهم عصـبیت دی چې سـړی مرسـته وکړي د خپل قوم سره په ظلم کې؟نبي علیه السلام وفرمایل:بلې!(داهم عصبیت دی).

داهم عصبیت دی چې څوک مسلمان ددې امله مستحق د مرستې، کومک او همکاري نه ګڼي چې دده قومي نه دی، دده دسمت نه دی، دده د نژاد نه دی، دده وطندار نه دی.

د بل قوم، قبیلې، نژاد، سره بغض ساتل هم تعصب دی.

علامه شـامي رحمه الله وایي:(ومن العصـبية أن يبغض الرجل الرجل لانه من بني فلان أو من قبيلة كذا اه.) (تكملة حاشية رد المحتار (۱/ ۵۶۵)

ترجمه:- دا هم عصـبیت دی چې یو سـړی بل سـړی سره ددې وجې نه بغض سـاتي چې دا دفلاني کورنۍ څخه دی یا دفلاني قبیلې څخه دی.

ابن الاثير وايي: (العصَبيَّة والتَّعصُّب : المُحامَاةُ والمُدَافَعَة) . النهاية في غريب الأثر

ترجمه:- عصبيت او تعصب حمایت او مدافعت ته ویل کیږي.

په لسان العرب کې د عصبیت دا سې تعریف شوی دی: (و العَصَبِيَّةُ : أَن يَدْعُوَ الرجلَ إِلى نُصْرةِ عَصَبَتِه والتَّأَلُّبِ معهم على من يُناوِئُهُم ظالمين كانوا أَو مظلومين). لسان العرب (١/ ٦٠٢)

ترجمه:- او عصـبيت دادی چې راوغواړي سـړی د خپلوانو مرسـتې او ملګرتيا ته ددوی سره په مقابل د هغه چاکې چې دښمني کوي ددوی سره ، خپلوان دده ظالمان وي او که مظلومين.

په القاموس الفقهي کې راځي: (العصبي: من يعين قومه على الظلم، والذي يغضب لعصبته). القاموس الفقهي (ص: ٢٥٢)

ترجمه:- عصبي هغه څوک دی چې مرسته کوي خپل قوم سره په ظلم کې او هغه چې په قهر کيږي د قوم لپاره.

نن صبا لکه د جاهلیت د زمانې په څیر عصبیت ډیر ډولونه لري لکه قومي تعصب، سمتي تعصب، ژبني تعصب، وطني تعصب، د رنګ او نژادي تعصب.

عصبيت دجاهليت د زمانې فتنه ده چې اسلامي ټولنه ور باندې اخته شوی ده.

د اسـلام څخه مخکې په جاهلیت کې په عربو کې مختلفې قومونه او قبیلې وې او ددې قبایلو ترمنځ به تل جنګ او جګړې وې او خلکو به په خپله قبیله او کورنۍ فخر کولو او په پټو سترګو به یې د خپلې قبیلې څخه دفاع کوله که به یې قبیله په حقه وه او که په باطل .

کله چې دا سلام مبارک دین راغی د جاهلیت ټولو بدو او ناوړه ر سمونو او عاداتو ته یې د پای ټکي کیښود چې د هغې په جمله کې د عصبيت موضوع هم وه.

زمونږ په هیواد کې قومي، لساني او منطقوي تعصب ته ډیره لمن وهل کیږي او د خلکو تر منځ دغه جاهلانه فتنه په خورا چټکۍ سره مخ پر زیاتېدو روانه ده، موږ باید لمړی له دغې فتنې څخه خپل ځان وژغورو او بیا ترې نور مسـلمانان ورونه هم خبر او منع کړو.

## په قرآ ن کریم کې د تعصب مذمت او حرمت:

تعصب سړی په سترګو ړندوي او په عقل یې پرده اچوي.الله تعالی د تعصب او قوم پالنې مرض د لمنځه وړلو لپاره اعلان وکړ چې ټول مسـلمانان سره ورونه دي او وه یې فرمایل چې که چیرې د ورونو ترمنځ اختلاف راغی ترمنځ یې صـلحه وکړئ او په ناحقه دچا طرفداري مه کوئ. الله جل جلاله وفرمایل:(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْـلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ)الحجرات: (١٠)

ترجمه:- بیشکه همدا خبره ده چې مؤمنان خو سره ورونه دي نو تاسو د خپلو دواړو ورونو په مینځ کې سوله کوئ او له الله نه وویریږئ ددې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي.

مطلب دا چې د اســـلام له برکته قومي، نژادي، وطني، لســـاني او د رنګ له امله فرق هيڅ اعتبار نلري ، بلکي که د الله تعالی په دربار کې مقبول عمل او تقوا وي او بس.

په تعصب کې تل په ناحقه جنګ جګړې وې، الله تعالی ددې کار د ختمولو لپاره په يووالي او وحدت امروکړ او عصـبيت يې وټکولو.الله تعالی فرمايي:(وَاعْتَصِـمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَاناً وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ) أل عمران: (۱۰۳)

ترجمه:- او تاسـو د الله پر رسۍ (ټول) په جمع سره منګولی خښـې کړئ او سره بيليږی مه او دالله (هغه) نعمتونه رایاد کړئ چې پر تا سو شوي دي کله چې تا سو د ښمنان وی بیا الله ستا سو د زړونو ترمينځ جوړ ښت راو ست نو دهغه په (دې) نعمت سره تاســو سره ورونه شــوئ او تاســو له اور نه ډډکې کندې پر غاړه وئ نو تاســو يې له هغه نه وژغورلی همدارنګه الله تاسو ته خپل آیاتونه بیانوي ددې لپاره چې تاسو نیغه لار وموئ.

په جاهليت کې به د اوس او خزرج قبيلو ترمنځ به تل تعصـبي جنګونه روان ؤ، الله تعالی ورته امر وکړچې دالله تعالی په رسۍ منګولی ولږوئ او خپل يووالی وساتئ او تعصبات پريږدئ.

همدا راز په جاهليت کې به خلکو په نسبونو فخرکولو او هر چا به ددې دعوه کوله چې زما قوم او نسب غوره او بهتره دی چې دا دعوه د عصبيت د تقويی لامل ؤ.

الله تعالي وفرمايل چې ټول انســان سره برابر دي؛ ځکه چې تاســو ټول ديو مور او پلار اولاد ياســت او هيڅوک په بل باندې برتري او بهتري نلري مګر بهتره او برتره هغه څوک دی چې زيات تقوا داره وي.

الله تعالي فرمايلي دي:( يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالاً كَثِيراً وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً) النساء: (۱)

ترجمه:- ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ هغه چې تاســو يې له يو نفس نه پيداکړي يی او له هغه نه يی د هغه جوړه پيداکړی ده او له دغو دواړو نه يی (په ځمکه کې) ډېر سړي او ښځې خواره کړل او له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه په (نامه د) هغه سره سوال کوئ او دخپلولۍ له پریکولو نه (ووېرېږئ) بيشکه الله پرتاسو باندې ښه ساتونکی (نګهبان) دی.

الله تعالي وفرمايل: (يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُـعُوباً وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ)الحجرات: (۱۳)

ترجمه:- ای خلکو! بيشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يی او مونږ تاسو ښانګې او قبيلې ګرځولي يی ددې لپاره چې تاسـو يو بل سره وپيژنی بيشـکه دالله په نيز په تاسـو کې ډېر عزت مند سـتاسـو زيات پرهيزګار دی بيشکه الله ښه پوه ښه خبردار دی.

په پورتني مبارک آيت کې الله تعالی د برتری معيار تقوا ذکر کړه او قوميت يې له منځه يوړ.

ددې آيت په شـــان نزول کې راځي: عن ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَال : لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْفَتْحِ رَقَى بِلاَلٌ عَلَى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ ، فَأَذَّنَ فَقَال بَعْضُ النَّاسِ : يَا عِبَادَ اللَّهِ ، أَهَذَا الْعَبْدُ الأَسْوَدُ يُؤَذِّنُ عَلَى ظَهْرِ الْكَعْبَةِ ؟ فَقَال بَعْضُـهُمْ : إِنْ يَسْخَطِ اللَّهُ هَذَا يُغَيِّرْهُ فَأَنْزَل اللَّهُ تَعَالَى : { يَأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى } . تفسير ابن أبي حاتم - (١٠ /٣٣٠٦)

ترجمه:- د ابن ابی ملیکه رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي: کله چې د مکې د فتحې ورځ شــوه بلال رضي الله عنه د کعبې سرته وختلو او آذان یې وکړ. ځینو خلکو وویل: ای دالله بندګانو! آیا دا تور مریی آذان کوي د کعبې دپاسه؟ ځینو وویل: که چیرې الله تعالی دی ته په قهرشو بدل به کړي دا، نو دا آیت نازل شو.

امام قرطبي رح ددې آیت په تفسیر کې وایي: الله تعالی دوی ته رټنه ورکړه په نسبونو د فخر کولو او دمالونو په ډیروالي او په فقیرانو کبر کولو ځکه مدار د فضیلت تقوا ده.

په یو حدیث کې راځي: ( يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلا إِنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ أَلا لا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلا لأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلا أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلاّ بِالتَّقْوَى) [مسندامام احمد جزء ٥ صفحه ٤١١]

ترجمه:- ائ خلکو! خبراوسئ چی ستاسو پروردګاریو دی، اوستاسو پلاریو دی ( چی آدم علیه السلام دی) خبراوسئ! چی فضلیت نشته دعرب لره پر عجم او عجم لره برتري نشته پرعرب، او فضیلت نشته دسره لره پرتور، او تورلره پر سره مګر په تقوی سره.

په اسلام کې د برترۍ او بهترۍ معیار تنها نیک او صالح عمل دی. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ). صحيح مسلم(٨ /١١)

ترجمه:- د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله تعالی نه ګوري ستاسې شکلونه ته او ستاسې مالونو ته بلکې هغه ګوري ستاسې زړونو ته او ستاسې اعمالو ته.

علماء کرامو لیکلي چې، د رنګونو او ژبې د اختلاف مقصد دا دی، چې مخلوق د الله تعالی د دغه ستر خلقت او حکمت څخه استفاده وکړي چې، په ایمان بالغیب کې یې ښه زیاتوالی او محکموالی راشي. مګر افسوس مخلوق د دې پر ځای چې عبرت او پند ترې واخلي، په سخته ګناه کې مبتلا دی.

لکه په دې لاندې مبارک آیت کې چې راځي:(وَمِنْ ءَايَتِهِۦ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوٰنِكُمْ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَأٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِينَ). الروم: ٢٢

ترجمه:- او د هغه له نښو ځینې د آسمانونو او ځمکې پیداکول دي او ستاسو د ژبو او ستاسو د رنګونو اختلاف (بیلوالی ) دی بیشکه په دغو کې خامخا نښې دي د عالمانو (پوهانو) لپاره.

په تعصب کې رانده جنګونه او رانده اختلافونه وي او انسان د خپلې قبیلې او قوم حمایت کوي خو دا نه ګوري چې زما قبیله په حقه ده او که په باطله او عدالت په نظر کې نه نیول کیږي. الله تعالی ددې مرض د مخنیوي لپاره حکم وکړ چې عدالت او انصاف د کارونو اساس وګرځوئ. الله تعالي فرمایلي دي: (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ).المائدة: (٨)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یی راوړی دی تاسو د الله لپاره (په حق باندې) مضبوط ولاړ اوسئ چې په انصاف سره ګواهي کوونکې یی او دیو قوم بغض دې تاسو دیته راپورته نکړئ چې تاسو عدل ونه کړئ عدل کوئ دا تقوا ته ډیر نژدې دی او له الله نه وویریږئ بیشکه الله ښه خبر دی په هغو کارونو چې تاسو یی کوئ.

## قومي ، سمتي او ژبني عصبیت په آحادیثو کې:

داچې تعصب او عصبیت هغه که په هر رنګ او شکل کې وي دټولنې د بربادی سبب ګرځي او په ټولنه کې اختلافات زیږوي، بدبیني زیاتوي، حق او رښتیا محوه کوي او د عدالت په مخ کې لوی خنډ تعصب دی. نو له دې امله د تعصب او عصبیت مذمت، قباحت او حرمت په نبوي آحادیثو کې زیات بیان شوی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم عصبیت په داسې الفاظو سره څپلی دی: (لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ). سنن ابی داوود ۴۹۴/۴

ترجمه:- څوک چې عصبیت یعنې (قوم پالنې) ته دعوت چلوي، یا د عصبیت لپاره جنګیږي او یا په دغه تعصب باندې مړ شي، دا زمونږ له ډلې څخه نه دی.

په یو حدیث شریف کې راځي: عن جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا فِي غَزَاةٍ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً فِي جَيْشٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ مِنْ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ الْأَنْصَارِيُّ يَا لَلْأَنْصَارِ وَقَالَ الْمُهَاجِرِيُّ يَا لَلْمُهَاجِرِينَ فَسَمِعَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ كَسَعَ رَجُلٌ مِنْ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ). صحيح البخاري (١٢/ ٢٢٤)

ترجمه:- د جابر بن عبدالله رضـی الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایي مونږ په یوه غزوه کې ؤ -سـفیان راوي وایي په لښـکر کې ؤ- ی مهاجرینو یو کس د انصـارو یو لره په شـاکې ووهلو په لاس یا په پښـه. انصـاري آواز وکړ ای انصـارو! (راشـئ زما مرسـتې ته ) او مهاجر آواز وکړ آی مهاجرینو! (راشـئ زما مرسـتې ته) رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل: دا څه د جاهلیت د زمانې آوازونه دي؟ صـحابه وو ورته وویل: ای د الله رسـوله! ووهه په شـا کې یو کس له مهاجرینو یوکس د انصارو لره. نبي علیه السلام وفرمایل: پریږدئ دا مرداري ده.

ر سول الله صلی الله علیه و سلم د تعصب په هکله یوه دا سې جمله ویلې ده چې هر عاقل له لږ فکر کولو ورو سته دې نتیجې ته ر سیدلای شي چې د پیغمبر صلی الله علیه و سلم له دې عمل څخه څومره نفرت کېده.فرمایي: (دعوها فانها منتنة ) دا د تعصب او قومپالنې خبره پریږدئ، دا بدبویه نعره ده.

په یو بل حدیث کې راځي: (عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالآبَاءِ مُؤْمِنٌ تَقِىٌّ وَفَاجِرٌ شَـقِىٌّ أَنْتُمْ بَنُو آدَمَ وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ لَيَدَعَنَّ رِجَالٌ فَخْرَهُمْ بِأَقْوَامٍ إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ فَحْمِ جَهَنَّمَ أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجِعْلاَنِ الَّتِى تَدْفَعُ بِأَنْفِهَا النَّتْنَ). [سنن ابی داود ۵۱۱۸]

ترجمه:- ابوهریره رضی الله تعالی عنه فرمایی: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خدای پاک ستاسوڅخه هغه تکبر دجاهلیت د زمانې او فخر کول په پلرونو باندی لری کړی دی ، یو کس به یا پرهیزګاره مؤمن وی او یابه بدبخته ګنهګار وي، تاسو اولاد د آدم علیه السلام یاست، او آدم علیه السلام دخاورو څخه پیدا شوی ؤ، ارو مرو به خلک په

خپلو قومونو فخر کول پرېږدي، یقینا دغه قوم به یوه سکروټه دسکروټو دجهنم څخه وي او یابه هم الله پاک ته تر هغه تورې ګونګټې سپک وي چې په خپلې پزې باندې وړاندې بوزي نجاست لره.

په حدیث شریف کې راځي چې څوک د عصبیت تر بیرغ لاندې مړ شو ، دده مرګ د جاهلیت د مرګ په شان دی.

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صـلى الله عليه وسـلم- أَنَّهُ قَالَ: مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عُمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ). صحیح مسلم ٦ /٢٠

ترجمه:- ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایلي دي: څوک چې دامام له طاعت څخه بیرون شو او دمسلمانانو له ډلې جدا شو ، بیا مړ شو دده مرګ د جاهلیت دمرګ په څیر دی او څوک چې د ګمراهی (عصبیت) د بیرغ لاندې جګړه کوي ، د عصبیت لپاره په قهر کیږي او یا مر سته کوي د عصبیت لپاره ، بیا ووژلی شو ، نو دده مرګ دجاهلیت د مرګ په شان دی.

د (رَايَةٍ عُمِّيَّةٍ )په شرح کې امام نووي وایي:( معناه يقاتل بغير بصـيرة وعلم تعصـبا كقتال الجاهلية ولا يعرف المحق من المبطل وإنما يغضب لعصبية لا لنصرة الدين).مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (١١/ ٣٠٥)

ترجمه:- ددې معنا داده چې جنګ کوي پرته له بصیرت او علم څخه د تعصب په وجه لکه د جاهلیت د زمانې جنګ او په حقه له ناحقه نه پیژني بلکه د عصبیت لپاره په قهر کیږي نه ددین له نصرت لپاره.

د قوم پرسـتی حرمت دومره سـخت دی چې دفقهې په کتابونوکې راځي چې په عصـبیت باندې مړ شـخص باندې به دجنازې لمونځ هم نه کیږي: قال في شرح درر البحار وفي النوازل وجعل مشـايخنا المقتولين في العصـبية في حكم أهل البغي .[ردالمحتارعلی درالمختارجلد ٢ صفحه ٢١١]

ترجمه:- په شرح درر البحار کې یې ویلي دي: په نوازل کې راغلي دي: چې زمونږ مشـائخوګرځولي دي هغه خلک چې په قومي تعصـبي( جنګونو کې( مړه کیږي په حکم دباغیانو کې.( یعنې که په صـحنه دجنګ کې مړه شي نه به غسـل ورکول کیږي اونه به هم مونځ دجنازې وربادې کیږي).

او دغه شـان په ردالمحتارکې په حواله ده « المغنی » لیکي: (وكذا الواقفون الناظرون إليهما إن أصـابهم حجر أو غيره وماتوا في تلك الحالة).[ردالمحتارعلی درالمختارجلد ٢ صفحه ٢١١]

او همدغه رقم حکم دی ( چې غسـل اومونځ دجنازې به نه ورکول کیږي) د هغه خلکو چې دوی قومي جنګ ته ولاړوي اود هغې ننداره کوي منظره کوی، که چیرې پر چا ډبره او یا بل شی ولګیده او مړ شو په دغه حالت کې .

## د تعصب او عصبیت د لمنځه وړلو لپاره نبوي کړنې:

د اسلامي ټولنې څخه د عصبیت او تعصب د لمن دټولولو لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم عملا لاندې کارونه وکړل:

کله چې په سیرة النبوي باندې ځغلنده کتنه وکړو نو به راته وا ضحه شي چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم د جاهلي تعصب د ختمولو او اسلامي اخوت د ترویج لپاره داسې اساسي اقدامات وکړل چې تاریخ یې مثال نلري. لکه:

۱ـ د مهاجرینو او انصارو تر منځ د مواخات رامنځته کول او د ورورګلوۍ فضاء جوړول.

۲ـ حضرت بلال رضی الله عنه چې یو غیر عرب و مؤذن جوړول.

۳- حضرت سلمان فارسي، صهیب الرومي او نورو عجمو صحابه کرامو ته پرته له تبعیض او توپیر څخه په لوړ منزلت قائلیدل.

۴- د عربو د بیلابیلو قبیلو تر منځ پخوانۍ دښمنۍ ختمول، هغوی ته قومي او قبیلوي عصبیت د یوه جاهلانه مرض په حیث معرفي کول او هغوی ترې منع کول.

۵ - د هر قوم، رنګ ، ژبې او سیمې سره د تړلیو صحابه کرامو سره یو شان چلند کول او د تبعیض فتنه محو کول.

**د تعصب او عصبیت زیانونه:**

د تعصب تاوانونه او زیانونه په لاندې ډول خلاصه کولای شو.

۱ ـ پر عصبیت الله تعالی ناراضه کیږي او عصبیت لویه ګناه ده.

۲ـ د هر راز ترقۍ مخه نیسي او خپل منځي منازعات رامنځته کوي.

۳- امنیت په نا امنۍ بدلوي.

۴- په ټولنه کې د مینې او محبت پرځای کرکه او نفرت زیږوي.

۵ - د نورو قومونو سپک ګڼل چې سخت ناروا کار دی.

٦ـ د متعصب شخص ملګري او متعلقین کم وي.

۷ـ متعصب هر وخت پریشان او غمګین وي ځکه د نورو خلکو په نعمت کې اوسیدل یي ځوروي او زړه خوري.

هرکله چې عصبیت په قرآن کریم او نبوي آحادیثو کې ناکاره عمل په ګوته شوی او مذمت یې بیان شوی دی ، پرمونږ لازم دي چې ورڅخه ځانونه وساتو .

په پای کې باید ووایو چې نن ســبا زمونږ په خاص ډول زمونږ په هیواد کې د اشــغالګرو او نورو فتنه ګرو ډلو لخوا څخه قومي، لساني او منطقوي تعصب ته لمن وهل کیږي او دخلکو تر منځ دغه جاهلانه فتنه راپورته کول غواړي، موږ باید په حیث د مسلمان له دغې فتنې څخه ځان وساتو او نور مسلمانان وروڼه هم ترې منع کړو.